## <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

**د شام ګلالي ماشومان مو له نورو کډوالو سره یو ځای په کښتیو کې ډوب شول. له خلافت پرته به نور د ځومره کسانو په ویر کېنو؟!**

بي بي سي د ۲۰۲۲م کال، د سپټمبر په ۲۳مه راپور ورکړ چې د سوریې سواحلو ته څېرمه په یوه ډوبه شوې کښتۍ کې ۷۱ تنه کډوال په داسې حال کې ومونډل شول، چې لسګونه کسان پکې وژل شوي وو. شل ژغورل شوي کسان د طرطوس ښار یو روغتون ته یوړل شول. په کښتۍ کې د لبنان، سوریې او فلسطین له ۱۲۰ تر ۱۵۰ ښځې او ماشومان وو. زموږ یو مسلمان ورور، مصطفی مستو له خپلو دوو لوڼو او زوی سره ډوب شو. د دغو ماشومانو مور ته دا غم ډېر دروند دی او د دې ناورین د څرنګوالي په اړه د ځواب ویلو لپاره هېڅ نه لري. د هغې په خبره: "هغه له بې وزلۍ او دغه ناوړه حالت څخه وتښتېد چې اوس یې موږ ورته پرېښې یو. سیاستوال مو د ژوند پروا نه لري. هېڅ شی به موږ بېرته سره یو ځای نه کړي او نه به مې ماشومان بیا ووینم."

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (UNHCR) په وینا، په لبنان کې د اټکل له مخې ۱،۵ ملیونه سوري او نیږدې ۱۴،۰۰۰ د نورو هېوادونو کډوال دي، دا هېواد د نړۍ په کچه د لوی شمېر کډوالو کوربه‌توب کوي. نړیوالو څارونکو ادارو ویلي چې د نړیوال کړکېچ په سبب د کښتیو له لارې په خطرناکو لارو کډوالي تر ۷۰ سلنه لوړه شوې. د لبنان تر ۸۰ سلنه ډېر نفوس خواړه او درمل په سختۍ پیدا کوي. د ملګرو ملتونو د شمېرو له مخې، یوازې له دغه هیواد څخه د وتونکو کسانو شمیر د ۲۰۲۰م کال په پرتله په ۲۰۲۱م کې نیږدې دوه برابره شوی.

د زرګونو ډوب شویو کډوالو ناوړه حالت ښیي چې د سمندرونو له خطرناکو او وژونکو لارو کډوالي څومره عامه شوې. ارزانه جعلي جاکټونه او ناقانونه انساني قاچاق په یوه لوی کاروبار بدل شوي او دا کاروبار په بشپړه توګه د نړیوال قانون پلي کوونکو ادارو له کنټرول څخه وتلی. زموږ له معصومو ماشومانو سره د ښه ژوند په هیله چل کېږي؛ دوی باور کوي او په بدل کې یې خیانت او فرېب ویني.

د خلافت په ریښتینې رهبرۍ کې د امت د چارو څارونکی او سمبالوونکی خلیفه به هېڅکله د انسانانو په ژوند کې دا ګواښ او د مایوسۍ اوږد حالت ونه مني. جبري مهاجرت د ناکراره او نهیلو مسلمانانو یو تریخ حقیقت دی. مور او پلار هېڅکله خپل ماشومان له خطر سره نه مخ کوي؛ پرته له دې چې د دوی د ژوند او مرګ د لاملونو په اړه فکر وکړي. له بل اړخه، کوم نارینه سرپرست خپله مېرمن او ماشومان د مرګ غېږې ته استوي؟ ایا تاسو د هغه وحشت تصور کولای شئ چې ډوب یاست، هېڅوک مو غږ نه اوري او ماشومان مو وینئ چې د مرستې لپاره چغې وهي؛ خو هېڅ مو له وسه نه کېږي؟

مور د الله سبحانه وتعالی دربار ته لاسونه لپه کوو چې له داسې غمونو مو وساتي او ژر تر ژره زموږ ډال او ساتونکی، د نبوت پر منهج خلافت، بیا را تاسیس کړي؛ امت له دې ناورین څخه راوباسي؛ دا ظلمونه او کړاوونه ورک کړي او د مسلمانانو امنیت او خوندیتوب بیرته را وگرځوي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُواْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاء وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ﴾**

ژباړه: *«او (هغه وخت رایاد کړه) چې ستا رب پرېښتو ته وویل: «زه به په ځمکه کې یو خلیفه پیدا کوم!» پرېښتو وویل: «پروردگاره!» ایا ته پر ځمکه داسې یو څوک ټاکې، چې فساد وکړي او وینې تویې کړي؟ موږ ستا حمد او ثنا وایو او تقدیس دې کوو. الله سبحانه و تعالی وویل: «زه په هغه څه پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهېږئ!»*
[بقرة: ۳۰]

**د حزب التحریر- ښځو برخې مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د ربیع الاول ۱**

**۲۰۲۲م کال، د سپټمبر ۲۷مه**

**د صدور گڼه: ۱۴۴۴/ ۰۰۸**